# کلمهّ « افغان »

## در شعر جناب محمد کاظم بیمار

دا وطن زموږ د تولو ورونو کور دی
که پشتون دی که تاجک دی تول یو ورور دی
هزاره دی که اوزبک او که دی ترکمن
دا یی وطن دی هم یی کور دی هم یی گور دی
مونږه تول د یو افغان ، په نامه یاد یږو
چه مو حوک جدا کوی بس مُخ یی تور دی
اوسیدلی په قرنو ، یو ، سره یو ځای
جدایی زمونږ په مخ کی لوی پیغور دی
مونږ، یو بل سره ، پوهیږو په خبرو
دری ژبی ، د پشتون د سترگو تور دی
دشمنانو کوشش کری (کلی) چه جدا شو
یو طاقت یو ، یو غیرت یو ، یو مو زور دی
په کلک عزم متحد یو خپل دشمن ته
مونږ یو چیغه ، یو آواز ، او یو مو شور دی
له هیچانه ، نه داریږو ، په جهان کی
اراده چه شی قوی ، وطن سمسور دی

محمد کاظم بیمار